# د محتوا فهرست

ا. لنډیز 1

ب. د ملکي وګړو د یرغلونکي مرګ ژوبله: دودونه او شمیرني 10

ت. سپارښتني 17

# ا. لنډیز

د چنګاښ په څوارلسمه کابل کښې د دولت ضد جنګیالیانو له خوا یو بمی برید په ترخ ژوبل شوي ملکی وګړی محمد د برید په هکله داسی وایی:[1]

> خرنګه چی زه د کراچی نه تیر شوم نو بم د یوې زلزلې په شان وچوید. زه په درې که څلور متره شاته وغورزولم او چی کله را ویښ شوم نو هریخواته لاسونه، ښپی، ګوتي او د بدن نوری ټوټې پرتې وی. خلکو چغی وهلی او یره درلودله چی بله چاودنه کیږی. ما سپین کالی په ځان و او چی کله می وکتل نو کالی می درست په وینو سره ول.
>
> زما ښپې په درد دی ، ما په منډی وښلی اوس د سره لاره تللی نه شم. زه سوک وهونکی وم او اوس می هیڅ څه د لاسه نه راځی. کله چی دی حادثی ته فکر وکړم نو اوښکې می بهیږی او زړه می وایی چی دا وطن پریږدم ، چی دا دنیا د سره پریږدم....

په کال ۱۳۸۵ کښې طالبانو ، د ګلبدین حکمتیار حزب اسلامی ډلی ، او نورو جنګیالیانو زیاتې شمیر وسله وال بریدونه تر سره کړی چی پکښې یا په ملکی وګړی په نښه کړی ول او یا هم ملکی وګړو ته د زیان نه رسولو لپاره وړه احتیاط نه وه کړی. عام افغانان چی کارونو پسی کور نه بهر کښې وی، او یا پر سرک روان وی او یا په سرویس کښې سپور وی ، نا څاپه د سخت دارونکی پیښو لکه ډزې، مورچلو څخه بریدونه، بمبارئ ، او یا نور تیرئ کونکی بریدونو سره مخامخ شوی.

دغه بریدونو پر عام افغان ولس ژور او هیبتناکه اغیزه درلوده. میندی، پلرونه، میرونه او ښځی او تنکی ماشومان پکښې قربانی شوی او خورا زیات کندی او یتیمان په تر شا پریښي. داکتران، ښوونکی، امدادی موسسو کارکوونکي ، کاریګران، مستریان، زده کوونکي، مامورین او نور دولتی کاریګر په د زیان رسولو لپاره په جلا توګه نښانه کړی.دغه بریدونو پر قربانی شوی افرادو ، د دوی کورني، او عینی شاهدانو کلک بدنی او روحی درد تپلی او خورا لوی ماتم په پری تحمیل کړیدی.

مونږ دا دانسان ارزښت په عنوان راپور ، چی د جنګیالی بریدونو او د دغه بریدونو پایلو په اړه دی، د شاهدانو ،ټپی شوی ملکی وګړو ، او د قربانیانو د کورنیو د قصو په بنسټ جوړ کړی دی. د دغه راپور په لیکنه کښې مونږ د کال ۳۸۵ بریدونو په اړه تر لاسه کړی اسناد او راپورونو څخه هم کار اخستی.

[1] محمد یوسف ارش سره د مرکه د چنګاش په ۱۴.نیټه

همداراز، په دې راپور کښې هغه بیانات څېړل شوي چې د هغو ترڅ کښې جنګیالیانو د هغه بریدونو مسئولیت په غاړه اخستي چې پکښې ملکي وګړي مړه او ټپیان شوي.
یوازې د دولت مخالفین د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې مسئول نه دي. تیر کال لږ تر لږه دو سوه او دیرش ۲۳۰ ملکي وګړي د ناټو او ایتلاف ځواکونو هغو عملیاتو په ترڅ کښې ووژل شول چې ښایي د جګړې د قوانینو په سر غړونه کښې تر سره شوي ول. که څه هم داسې شواهد نشته چې څرګنده کړي چې ناټو او ایتلافي ځواکونو پر عامو وګړو قصدي او نیغ برېدونه کوي، خو څو واری داسې پیښنه شوي چې دغو ځواکونو بې توپیره بریدونه کړي او یا یه عام وګړو ته د زیان نه رسولو لپاره وړه احتیاط نه دې کړې.
هیومن رایټس واچ پر دغو کړنو راپورونه خپور کړي او اوس هم د ناټو او د ایتلاف ځواکونو فعالیتونه ته ځیر دي. خو په دې موقع کښې مو دا راپور مو خاص د جنګیالیانو د بریدونو قربانیانو حال، او د افغانانو پر ملکي ژوند د دغو بریدونو اغیزې په اړوند برابر کړې.

تیر کال کښې د جنګیالی بریدونو له کبله د ملکي وګړو مرګ ژوبلې لوی پاڅوب وموند. که څه هم د قربانیانو بشپړ شمیر معلوم نه دې، خو دا واضع ده چې د ۱۳۸۵ کال په افغانستان کښې د تیرو پنځو کالو په پرتله تر تولو خونړي وه. د سرک د غاړې بمونو او داسې نور بریدونو کښې د نورو کلو په پرتله دوه برابره دیری راغې. په کال ۱۳۸۵ کښې هیومن رایټس واچ ۱۸۹ بمی بریدونه شمیرلي چې له عمله یه د ۵۰۰شاوخوا ملکي وګړي وژل شوي. د ډزو، قتل، او مورچلو څخه بریدونو په ترڅ کښې ۱۷۷ نور ملکي وګړي هم وژل شوي.

په مجموعي توګه په کال ۱۳۸۵ کښې جنګیالیانو لږ تر لږه ۶۶۹ ملکي وګړي د ۳۵۰ بریدونو په ترڅ کښې وژلي دي. له دې ۳۵۰ بریدونه څخه نیمایي ښکاري چې قصداً پر ملکي وګړو او تاسیساتو باندې توغول شوي وي. په سلګونو ملکي وګړي د دې بریدو له عمله سوځیدلي، سخت ټپیان شوي او ښپې او لاسونه یې له لاسه ورکړي دي. کال ۱۳۸۵ کښې د ۱۰۰۰ و نه دیر ملکي وګړي د جنګیالی بریدونو له عمله مړه او ژوبل شوي.

ځانمرګی بریدونه، چې بخوا په افغانستان کښې دیر لږ پیښیدلي، اوس په منظمه توګه پیښیږي. د کال ۱۳۸۵ په بهیر کې د جنګیالیانو له خوا لږترلږه ۱۳۶ ځانمرګی بریدونه تر سره شول—چې د وړم کال په پرتله پکښې شپږ ځله زیاتوالی راغلی. (دا شمیره د بره یاد شوی شمیر برخه ده.) د ځانمرګی بریدونو له عمله لږ تر لږه ۸۰۳ ملکي افغانان مړه او یا ژوبل شوي. (۲۷۲ یې مړه او ۵۳۱ یه ټپیان دي.) ددغه بریدونو څخه ۸۰ پر نظامی نښانو ول، خو بیا هم ددغو بریدونو تاوان ملکي وګړو ته خورا دیر وه. د هر وژل شوي سرتیري په برابر پنځه عام وګړي قرباني شوي. (۱۸۱ وژل شوي ملکي وګړي د ۳۷ مبارز سرتیرو په برابر.)

سږکال هم ملکی وګړی د دولت ضد جنګیالیانو په بریدونو کښی ټپیان او وژل کیږی. په تیرو دوو میاشتو کښی، د ځانمرګی بریدونو، چاودنو، ډزو، اختطافونو او قتلونو په شمول ۲۵ ولسه وال بریدونو کی لږ تر لږه ۵۲ ملکی وګړی وژل شوی او ۸۳ نور هم ټپیان شوی دی.

د دولت ضد جنګیالیانو په بریدونو کښی د ملکی وګړو ملکیتونو ته هم خورا دیر زیانونه رسیدلی. سر بیره د هغه ورانیو نه چی د چاودنو له کبله دوکانونو، کورونو او نورو ملکی تاسیساتو ته رسیږی، جنګیالیان ښوونځی نیغ او په جلا توګه نښانه کوی. دا ښوونځی تنکی او حساسه هدفونه دی چی له بده مرغه په لری پرتو سیمو کی ددولت یواځینی نښی بلل کیږی. پر ښوونځیو د اورآچولو او چاودنو بریدونه د کال ۱۳۸۴ شمیر (۹۱) نه په کال ۱۳۸۵ کی ۱۹۱ ته پاڅوب وموند. دغه بریدونه لا اوس هم تر سره کیږی.

## د جګړې د قوانینو څخه سر غړونې

لازمی نده چی د وسله یزو شخړو له کبله پر ملکی وګړو تحمیل شوی مرګ ژوبله د جګړې د قوانینو او یا د نړیوال بشردوستانه قانون څخه سر غړونې نتیجې وی. د اوس محال وسله یزو شخړو فطرت داسی دی چی که چیری شخره د جګړی قانون سره سم هم وی، پکښی ملکی وګړی په عادی توګه وژل او زورول کیږی.

په افغانستان کښی د تیر کال بریدونو په اړه هیومن رایټس واچ دا موندلی چی د د دولت ضد جنګیالیو د بریدونو له عمله ملکی وګړو ته رسیدلی مرګ ژوبله او زیانونه یا قصدی ول او یا هم کیدای شو چی مخنیوی یه وشی. جنګیالیانو ملکی وګړي یی په عامه توګه او نیغ نښانه کړي او د ملکی او پوځی هدفونو توپیر یی ندی کړی. او یا هم سره له دی چی دوی پوهیدل چی د برید زیان ملکی وګړو ته، د پوځی نښی په تناسب، زیات دی بر پوځی نښو بریدونو کښی د نامناسبه زور څخه کار آخستی.

دا دول بریدونه د نړیوال بشردوستانه قوانینو څخه سر غړونې دی او د دغه قوانینو څخه جدی سرغړونې جنګی جرایم بلل کیږی. د دغه جرایمو څارل او تعقیبول د نړیوال جنایی محکمی د روم منشور په قانونی صلاحیت کی دی. افغانستان دغه منشور په کال ۱۳۸۲ کښی تصویب کړی.

ددغه بریدونو مسؤلیت په واضح توګه د طالبانو او نورو جنګیالیانو په غاړه دی. که څه هم د ځینو ادعاوو خپلواکه تصدیق نشی کیدای، د طالبانو ویندویانو د دغو بریدونو، په خاصه توګه هغه بریدونه چی جنوبی او جنوب ختیز ولایاتو کښی تر سره شوی، د دریو څخه د دوه برخو مسؤلیت په غاړه اخستي. د

شمال او ختیز ولایتونو په بریدونو کښی ښایی د ګلبدین حکمتیار حزب اسلامی ډلی لاس وی. د ګلبدین حکمتیار حزب اسلامی ډله په جنګیالی بریدونو کښی په تیاره توګه بوخت دی. د خوست، ننګرهار او نورو ختیزو ولایتونو بریدونو مسؤلیت ښایی د طالبانو او د حکمتیار د ګوند ملاتړی ډلی لکه جیش المسلمین او د جلالدین حقانی ډلی په غاړه وی.

## د دولت ضد جنګیالیانو دلایل

د دولت ضد جنګیالیان دیر ځلی دعوا کړی چی ددوی نظامی عملیاتونه عموماً قانوني دی، او دا چی دوی ملکی وګړی په نښه کوی هم د قانون له خوا روا دی.

د طالبانو د مشرانو بیانیې او ددوی د ویندویانو ویناوی، او داسی اسناد چی ښایی د طالبانو د شورا له خوا خپور شوی وی دا څرګنده یی چی ښایی طالبان پر افغان دولتی مامورینو، ښوونکو، د غیردولتی ادارو کارکوونکو یا د حامد کرزی ددولت هریو ملاتړ پر ضد یرغل روا بلی. د دیرشمیر بهرنی مرستندویو ادارو کارکوونکو د اختطاف او وژنی نه پس طالبانو ددغو عملونو مسؤلیت په غاړه اخستی او دعوا یه کړی چی دغه افرادو د امریکایی ځواکونو او ناټو لپاره جاسوسی کوله.[2]

دغه شان ادعاوی د نړیوالو قوانینو څخه رسوا سرغړونی دي، لپاره ددی چی نړیوال قانون پر هغه ملکی وګړو باندی چی په تاوتریخواله کښی ګډ نه وی هر دول قصدی برید منع بللی. د طالبانود مشرانو دا بیانیی په جنګی جرایمو کښی د دوی د اخته کېدلو نښانی دی. او همدا راز سبب کیږی چی واړه جنګیالی مشران او د هغو تابع جنګیالیان د جګړی د قوانینو درناوی و نه کړی.

د جنګیالیانو مشرانو او وینادویانو کله نا کله د عامو وګړو د امنیت په اړه اندیښنه ښودلی، خو که چیری په دغه راپور کښی ددوی د کړنو څېړنی ته ځیر شو نو دا اندیښنی قانع کوونکی نشی کېدای. دیرو افغانانو هیومن رایټس واچ ته داسی وویل چی که چیری د مرګ ژوبلی شمېر ته و ګورو، او یا پرملکی وګړو تحمیل شوي زیانونو ته ځیر شو نو د جنګیالیانو دغه ادعاوی چی پکښی دوی د ملکی وګړو امنیت ته اندیښنه ښودلی درواغ ښکاری. همدا راز د هغه بیانو چی پکښی جنګیالیانو د ملکی وګړو امنیت ته اندیښنه ښودلی تمرکز صرف پر هغه ملکی وګړو دی چی دولت او مرستندویه ادارو سره کار نه کوی. جنګیالیان د دولت ملکی کارکوونکی او د مرستندویه ادارو کارېګر بی ګناه نه بلی. د ځینو ملکی وګړو امنیت ته اندیښنه ښودل د نورو ملکی وګړو باندی بریدونو دلیل نشی کېدای.

---

[2] ‘Afghans Launch Hunt for Kidnapped Albanians’د۱۳۸۴ کال د کب د میاشتی راپور ته رجوع وګړی
. . دطابانو ویاند قاری محمد یوسف رویترز آژانس سه په تماس کښی. دا راپور د مقدنونیی څلور اوسېدونکو چی د طالبانو له قتل شول په اړه دی. قاری یوسف له بی بی سی سه په خبرو کښی وویل چی (مونږ. به ه هغه کس چی له امریکایانو سره مرسته کوی ووژو.)بی بی سی د ۱۳۸۴ کال کب مپاشته.

## د غیر قانونی بریدونو دولونه

په افغانستان کي د دولت ضد جنګيالي ډلو په وروستيو کلونو کی ده غیر قانونی بریدونولاندي ډولونه تر سره کړي دي:

- **پر ملکی وګړو قصدي بريدونه**: لکه د ماموړينو او ښوونکو وژنه، يا پر ګڼه ګونو بازارونو، شونځيو او کلينيکونو باندي بريد.
- **بي تو پيره بريدونه**: هغه ډول بريدونه جي په کښی برید کوونکي بوه هغه وسيله يا طريقه کاروي چې د ملکي وګړو او مبارزو سرتيرو تر منخ توپير نشی کولای. د ساری په توګه ، په عمومي سرک د وسيلو ضد ماين نسبول يا په ملکي وسايطو کښی ځانمرګي بريدونه کول.
- **بې تناسبه بريدونه**: هغه ډول بريدونه جې په کښی مخکی له مخکی ښکاره وي چی ملکی وګړوته رسيدونکي زيانونه به د پوځی لاسته راوړنو په تناسب ډير زيات وی.

د ځينو جنګياليانو د بريدونو نه دغه ښکاري چې مقصد يی د ملکي وګړ ويرول دي. د دوی دغه تدبير نړي وال بشر دوستانه قوانين تر پښو لاندي کوي. د دولت ضد جنګياليانو په نيغه توګه د دولت مامورين او مرستندوی ادارو کار کوونکي د دی لپاره په نښه کړي چې افغان اولس دغير دولتي امدادي موسسو او دولتي وظيفود تر سررسولو نه وژغوري. د دولت ضد جنګياليانو خپل په بې شميره پيغامونه او خبرتياوو کي افغان اولس دغير دولتي امدادي موسسو او دولتي وظيفود اجرا کولو نه تهدی کړې دې. په همدې سبب مخالفو جنګياليانو په ملکي وسايطو کي بمي بريدونه د خلګو د ډارولو دپاره کړي دي. دحکومت ضد ډلو په دوامداره توګه د ملکي وګړو د ډارولو د پاره شبنامې خپرولي دي چې په کښې ملکي وګړوته د دولت او نړيوالو ځواکنو سره د همکاري پر ضد اخطارونه ور کړل شوې دې.

د ډيرو ځانمرګه بريدونو پر مهال جنګياليانو خپل ځانونه د ملکي کسانو په بڼه وښودل چې د نړيوال د غدر په ضد د قانون څخه سر غړونه ده. د غدر بريدونه هغه شان بريدونه دي چې په کښې جنګيالي دبريد کولو د پاره د ملکيانو شکل اخطياروي. دغه شان بريدونو د ايتلافي ځواکونو د پاره په افغاستان کښې د ملکي وګړو او جنګياليانو تر مينځ توپير خړ کړې دې. له همدې کبله ملکي وګړوته د ايتلافي او دولتي ځواکونو په نظامي عملياتو کښی د زيان رسيدو امکانات زيات شوي دې. د ۱۳۸۵ کال په ورستيو مياشتو کښی ايتلافي ځواکونو په تيز رفتاره ملکي ګرځندوي وسايلو د مخکينې د غدر د بريدونو په ګمان څو ځلي په نا پوهي ډزي کړي دي.

نړيوال بشردوستانه قوانين د ټولو مبارزو ډلو نه په پوځي عملياتونو کښې د ملکي وګړو د ځاني او مالي زيان د مخنيوي يا لږترلږه د امکان تر هده کموالي دپاره د مناسبو ګامونود اجرا کولوغوشتنه کوي. بيا هم د دولت ضد جنګياليانو پر ملکي وګړو باندي ډير قصدي بريدونه توغولي دي. دا په څرګنده ډول جنګي جرايم دي. مخالفو جنګياليانو په پوځي هدفونو هم بريدونه کړي چي د بې توپيره او بې تناسبه ملکي زيان سبب ګرځيدلي. دا بريدونه د جګړې د قوانينو نه سرغړوني کښې دي.

زيات جنګيالي بريدونه په ګڼه ګونوملکي سيمويا د استوګني او سوداګري سيمو ته نيږدې توغول شوي دي. برسيره پر دې بريد کوونکو په بريدونو کښې دهغه شان زوررو چاوديدونکي وسيلونه کار اخيستې دې چي د چاودني له سببه يې نه تنها پوځي هدفونو زيانمن کيږي بلکه د ژور ملکي ځاني او مالي زيان سبب هم ګرځي.

ډير ځلي ځانمرګي بريد کونکي يا پياده وي او يا هم د ګرځندوې وسايلو نه کار اخلي. ځانمرګې بريد د خپل فطرت د لحاظه يوه ډيره دقيقه وسله ګڼل کيږي مګر هيومن رايټس واچ دا موندلې ده چې ځانمرګي بريد کوونکي په عمل کښې د ملکي وګړود تلفاتو نه بې پروا دي او په وار وار خپل چاوديدونکي وسيلې د وخت نه مخته او ځيني ځلي په غلطه طريقه باندي چوي. ځانمرګي بريد کوونکي ملکي جامې اغوندي چي ددوی توپير د ملکي خلګو سره نا څرګنده کوي او ددي په بدل کښې دملکي وګړو امنيت په خطر کښې اچوي. د طالبانو او نورو مخالفو ډلو مشرانو له خوا په ګڼه ګونو ملکي سيمو کښې د هغه ځانمرګي بريدونو ستاينه چې د ملکې او پوځي وګړو توپير نه کوي ، د نړيوال بشردوستانه قوانينو نه سرغړونه ده چي او جګړيزجرم ګڼل کيږي.

د دولت او ايتلافي ځواکونود ملکي وګړود امنيت د تامينولو په هڅه فعاليتونه هم د هيومن رايټس واچ ترڅير لاندي دي. نړيوال بشردوستانه قوانين ديو شخړې د ټولو مبارزو ډلو نه د ملکي وګړو د محافظت دپاره چي د دوي تر سمبال لاندي وي د مناسبو ګامونود اجرا کولوغوشتنه کوي. سره ددی چې بايد پوځي اډې د ګڼه ګونو ملکي سيمونه لري وسا تل شي. ددغو مسوليتونو بايد ټولي ډلی درناوي وکړي. دولتی او ايتلافي ځواکونود ملکي وګړود امنيت د تامينولود مسوليت سربيره ددوي څخه د خطري ليري کولو لکه پوځي وسايل د ملکي سيمو نه دباندي ساتلوهم مسوليت لري او په ګڼه ګونو ملکي سيمو کښې بايد ګزمي لږ شي.

* * * * *

د مرګ ژوبلی سره سره، دجنګياليانو بريدونو پر افغانانو شديد روحی دردونه تحميل ګړي.

د ۱۳۸۵ کال وري میاشت په یو برید چې ننبه یې د افغانستان د ملي شورا یو لوړ پوړی غړی وه، شهرزاد چې د نهو کالو نجلۍ ده ، په بې رحمه توگه ژوبله شوي وه. نس یه چیری او کلمی یه تری څولندی وی. شهرزاد وایی چې هغه او د هغی ورور زیارت ته دعا له پاره تللي ول او کله چې دوی له زیارت نه را ووتل نو چاودنه وشوه.

> مونږ کورته را روان و چې چاونه وشوه او زما نس یه چیری کړ، ما ویل چې گوندی مړه به شم. هغه چاودنه می اوس په خوب کښې ځورروی او را په یادیږی چې ما گمان نه لره چې زه به ژوندی پاتی شم. په یاد می دي چې په هغی ورځ ما د شهادت کلمه تېره کړه، ما ویل چې زه به ژوندی نه پاتی کېږم.

غلام چې د کابل او سیدونکی دی د ۱۳۸۵ کال چنگاښ میاشت کی په یوه سرویس کښې سپور و چې یو ناڅاپی د سرویس په مینځ کښې چاودنی د ده ژوند ور تریخ کړ.

> چاودنه دیره روښانه وه او یو مردار ژغ یه وه. موتر په داسی اور کښې دوب وه لکه چې دوزخ وی. ځان ته می چې پام شو نو ښکاره شوه چې نیمایی بدن می اور اخستی وه.

> زما څنگ سره یو سړی ناست و او وه می نه شو گړی چې وی ښورومه ، کتلی می چې بیوزله مړ دی. زما له پرهرونو څخه وینی بهېدلی او په دیر مشکل سره له موتره د باندی ووتلم. چغی او بغاری می وکړی چې ای خلکو را سره مرسته وکړی، ځارندویانو ته می ناري کړی، خو هر یو خپل ځان په غم کښې و او زما څخه یه تیښته کوله.

ددغو بریدونو د قربانیانو د کورنی او خپلوانو ژوند له غمه ډک شوی. د محمد هاشم میرمن چې بی بی سادات نومیدله تیر کال په شمال کښې د یو مورچلی برید له کبله ،چې ښایی د دولت ضد جنگیالیانو تر سره کړی وی، ووژل شوه. هاشم تاسف کوي چې:

> هغه یوه دیره ښه ښځه وه. داسی وه لکه چې مونږ نوی سره واده کړی وی. هغه زما ترتولو نژدی ملگری وه. زه اوس ورک او خپه یم. کومی خونی کښې چې هغه او سېدله که اوس ننووځم نو سا می تنگیږی. د میرمنی مړینی نه پس نه یوازی د دی دولت نه می زړه تور دی بلکه له دی دنیا نه می زړه تور دی.

د جنگیالیانو هغه بریدونه چې په ملکی وگړو توغول شوی نه یوائی د عادی ژوند جوړښت یه شل کړای ، بلکه د دغه بریدونو د اصلی تاوانونو—لکه مرگ ژوبلی—بر سیره نور اساسی زیانونه یه ملکی وگړو ته رسولي. د کار، د زده کړی او تولنیز او روغبیایی خدماتو نشتوالی، او ویجاړ اقتصادی حالت له عمله

عادی افغانان لکه بزګر، ختګر، او موټروانان هسی هم ځوریږی. دیر شمیر بریدونه پر بشردوستانه مرستندویو ادارو کارکوونکو او دولتی کارمندانو باندی شوی دی. او دغه بریدونه په نا آرامه سیمو کښی د پرمختیایی پروګرامونه او د دولت د مرستو د مخنیوي سبب شوي. له دی عمله د ځپل شوی عام افغانانو خوار ژوند لا نور هم خوار شوی.

د بی هدفه او خپور تشدد که کبله دیر شمیر کورني بی ځایه شوی او په بهر کښی پراته مهاجرین وطن ته ستنیدلو ته زړه نه ښه کوی. تیر کال په جنوبی ولسوالیو کښی د وران امنیت او تاوتریخوالی له عمله له سل زرو نه دیر ملکی وګړی بی ځایه شوي. په دغه سیمو کښی د وران امنیت له کبله د دغو سیمو اوسیدونکي چی ایران او پاکستان ته مهاجر شوی ول، یا هیواد نه را ستنیږی او بیا که را ستون هم شی نو کابل او یا نورو ښارونو کښی کډی آړیي. درې میلونو نه دیر افغانان لا اوس هم د هیواد نه بهر پراته دی.

په جنوب او جنوب ختیز سیمو لکه کندهار، زابل، ارزګان، پکتیا، پکتیکا، او کنر کښی د کورنیو بیځایه کیدل او وسله والې شخړی جدی شوی دی. دا هغه سیمې دی چی د پاکستان سرحد ته نږدې پرتې دی او یا پکښې جنګیالیان قومی او کورنۍ تړاونه لری. د کال ۱۳۸۵ وژونکی بریدونو څخه ۷۰ فیصده په دغو سیمو کښې تر سره شوی. دیر افغانان او د بشردوستانه ادارو کارکونکی دغه سیمې د شخړو ناحیې ګڼي. دولتی، پرمختیایی او بشردوستانه مرستې په دغه سیمو کښی تقریباً د سره وجود نه لری.

دا د تعجب وړ نه دی چی دغه سیمې په ځانګړی توګه ناآرامه دی. قوی شواهد شته چی تری ښکاری چی د پولی په هغی خوا، د پاکستان په قبایلی سیمو کښی، جنګیالیان په آزاده توګه فعالیت کوی او پاکستانی چارواکی ددوی په چارو کښې ناکافی ممانعت کوی. دیر جنګیالیان پولی نه هغی پلو ته اوړی او د پاکستان سرحدی سیمو او یا د کوټه، پیښور او چترال غوندی ښارونو کښې پناه آخلی. داسی ګڼ شمیر او مفصل راپورونه شته چی څرګندوی چی د پاکستان د دولت بیلابیلو رتبو چارواکي په افغانستان کښی بوخت جنګیالیانو سره مرستی کړی او یا یی تی ملاتړ کړای. ځینی پاکستانی محلی چارواکو جنګیالیانو سره د مرسته کولو اقرار کړی. دا په داسی محال کښې چی بمی بریدونه او نور تشدد پاکستانی سیمو ته خپور شوی.

په دغه اړوند د پاکستان هغه ادعا چی وایی دوی د جنګیالیانو پر ضد غښتلي عملیاتونه کوی جدی نیول ناممکنه شوی. خو بیا هم بیځایه به وی که ووایو چی د افغانستان درستی ناآرامي په پاکستان کښی د جنګیالیانو پناه ځایونو پوری تړلی ده. له جنکیالیانو سره تړلی فعالیتونه او ستونځی صرف د پاکستان په پولی پراته جنوبی او جنوب ختیز ولایتونو ته محدود نه دی. بلکه د دولت ضد ډلو په شمال او لویدیځ ولایتونو او په کابل ښار کښی هم بریدونه، چاودنی او قتلونه تر سره کړی دی. عمومی ناآرامي د هیواد هر ګوټ کی یه ژوندانه باندی اغیزه لرلی. تقریباً د هر درې بریدو څخه یو د پاکستان سره د پولی نه لرې پرتو

سيمو کښې تر سره شوي دي. جنګيالي دلي د افغانستان په بيلابيلو سيمو کښې په اساني سره فعاليتونه کوي.

×××××

ديرو افغانانو پر ملکي وګړو باندې د قصدي بريدونو، او د پوځې نښو باندې د بريدونو پر ملکي وګړو ستر باج په اړه هيومن رايټس واچ ته شکايتونه کړي.

د ۱۳۸۵ د چنګاښ په څوارلسمه د کابل په هغه بمي بريد کښې چې ښايي قصداً پر ملکي وګړو توغول شوی وي، ژوبل شوي ملکي وګړي محمد چې مونږ تری د راپور په پيل کښې هم ياد کړی، وايي چې دی حيران دی چې جنګياليان ولې داسې بريدونه تر سره کوي. دی وايي چې (زما ګناه څه ده؟) او (طالبان ولي غواړي ما و وژني؟)

> نه مې شخصي دښمنان شته او نه دا طالبان پيژنم، زه يو کاريګر سړی يم او دا خلک د سره نه پيژنم. زه د دوی دښمن نه يم. او په هغې ورځ خو ما هيڅ ايساف او ناټو ځواکونه په شاوخوا کښې د سره نه و ليدلي. هری خوا ته زمونږ خپل خلک ول، زمونږ خپل افغانان. نو د دوی هدف څوک وه؟ دغه بې وزله خلک؟ دا طالبان، دوی هرکس وژني او هر يوه باندې بريدونه کوی. زه نه پوهيږم چې ددوی هدف په هغه ورځ څه شی وه او د دوی هدف څه شی دي؟

د تير کال غويي مياشت کې يو بريد چې ښايي د ناټو پوځي کاروان يه هدف وه، د کابل ښار او سېدونکی حبيب الله يو ورور يه ځوانيمرګ کړو. حبيب الله بريدکونکي داسې محکومو:

> دا ناروا خلک دی، ځان الوزوي او بې وزله او عام وګړي پکښې قرباني کيږي. دغه بريد يو بهرني سرتيری يه هم و نه وژه، خو دير بې وزله خلک يه قرباني کړل. لکه دوی غوښتل چې تنکي ماشومان ووژی.

## ب. د ملکی وګړو دیریدونکي مرګ ژوبله: دودونه او شمیرني

هیومن رایټس واچ د برو کیسو تر څنګ ، د هغه جنګیالی بریدونو ، په اړه ځینی نور خپور او ناخپور شوی اسناد یه ازمویلی چي پکښی ملکی وګړی مړه اویا ټپیان شوی وی. راتلونکی برخه کښی مو خپل ځینی موندنی تاسو سره شریکه کړی.

### ملکی وګړی په محراق کښی

په کال ۱۳۸۵ کښي جنګیالیانو دیر شمیر داسی بریدونه چی پکښی ملکی وګړوته مرګ ژوبله رسیدلی تر سره کړل. د باوری اسناد ، دواړه داخلی او بهرنی، زمونږ خپل ملومات او د نورو اعتباری منابعو او ناظرینو د معلوماتو په بنست مونږ دی پایلې ته رسیدلی یو چی په کال ۱۳۸۵ په بهیر کښی لږ ترلږه ۳۵۰ داسی جنګیالی بریدونه تر سره شوی چی پکښی ملکی وګړی مړه او یا ټپیان شوی دی. دغه بمی، اختطافی ، دزو ، قتلونو اور نورو متشددو بریدونو په ترڅ کی لږ تر لږه ۶۶۹ ملکی وګړی قربانی شوي . [3]

(جنګیالیانو سره د ناتو ، ایتلافی ځواکونو ، او افغان پوځ ننښتو په ترڅ مړه او ژوبل شوی ملکی وګړو شمیره د برو ارقامو کښی شامله نه ده. )

دا کومی شمیری څه مونږ مخکی کړی دیري محدودې دی. ګن شمېر افغان چارواکی او ملکی وګړی په دی باور دی چی ددیرو مرګ ژوبلو خبر، او په خاصه توګه لرو پرتو سېمو کښی د مړه او ټپیان شوو وګړو شمیری، مونږ ته نه را رسیږی. د جنګیالی بریدونو په ترڅ کښی قربانی شوی ملکی وګړو شمیره ښایی خورا لوړه وی.

که څه هم یو شمیرملکي وګړي د ډزو او اختطاف له کبله وژل شوي دي، زیاتره د ملکي وګړو مرګ ژوبله له بمي بریدونه له کبله شوې ده.

### بمي بریدونه( ځانمرګي بریدونه او نا ځاپه چاودیدونکي یا IEDS )

[3] د ۱۳۸۵ کال په پای کښی د امریکی د نظامی استخباراتو یو مامور د نیویارک تایمز ورځپانی ته وویل چی په تیر کال کښی د سرک د غاړی بمونو په شمیره کښی د نورو کلونو په پرتله دوه برابره دیری راغلی. د ۷۸۳ نه ۱۶۷۷ بریدو ته شمیره رسېدلی.
David Cloud, “US Says Attacks Are Surging in Afghanistan,” New York Times, January 16, 2007.

- په کال ۱۳۸۵ کښې په ۱۸۹ ځانمرګي بریدونو، او نا څاپه چاودیدونکي یا IEDS بریدونو په شمول بمي چاودنو کښې د ملکي وګړو مرګ ژوبله شوې وه.
- په دغه ۱۸۹ بمي بریدونو کښې ۱۰۰۰ و نه زیات ملکي وګړو مرګ ژوبله شوی چې پکښې ۴۹۲ ملکي وګړي مړه او نږدې ۷۷۳ ټپیان شوي.

- داسې ښکاري چې لږ ترلږه ۱۱۸ بریدونه په پوځي هدفونو توغول شوي او ۵۷ بریدونو ملکي وګړي په نښه کړي وه. د ۱۴ نورو بریدونو هدف نا معلومه دې.

- په هغه ۱۱۸ بریدونو کښې چې په پوځي هدفونو توغول شوي وه ۲۶۸ ملکي وګړي مړه او نږدې ۵۳۴ ټپیان شوي.

- په هغه ۵۷ بریدونو کښې چې ملکي وګړي یې په نښه کړي وه ۱۹۲ ملکي وګړي مړه او نږدې ۲۱۵ ټپیان شوي.

## ډزې، تښتوني، اعدام او نور غیر بمي بریدونه

- لږ تر لږه ۱۷۷ نور ملکي وګړي د ډزو، تښتونو، اعدامولو او نورو غیر بمي بریدونه کښې مړه شوي دي.


## ځانمرګي بریدونه

ځانمرګي بریدونه چې پخوا په افغانستان کښې کمیابه وه په ۱۳۸۵ کال کښې په عادي ډول توغول کیدل. په کال ۱۳۸۱ کښې ۲، کال ۱۳۸۳ کښې ۶ او کال ۱۳۸۴ کښې ۲۱ ځانمرګي بریدونه توغول شوي دي. په ۱۳۸۵ کال کښې تر کال ۱۳۸۴ پوري ۲ ځلي زیات ځانمرګي بریدونه توغول شوي چې شمیر یې ۱۳۶ و ته رسیږي.

دا ۱۳۶ ځانمرګي بریدونه په پورتنې ۱۸۹ مجموعه کښې شامل دي. امریکاي پوځونو هم داغه شان راپور خپور کړې دې. په دې راپور کښې په ۱۳۸۵ کال کښې ۱۳۹ ځانمرګي بریدونه شمارل سوي کم

چي د خپور شوي او پټو ځانمرګي بريدونو مجموعه ده.[4] امريکاي پوځي قومندانان په ۱۳۸۵ کال کښې د لا هم زياتو ځانمرګي بريدونه په ګمان دي.[5]

په ۱۳۸۴ کال کښې لږ تر لږه ۸۰۳ ملکي وګړي د ځانمرګي بريدونو له کبله مړه يا ژوبل شوي چي پکښې ۲۷۲ مړه او ۵۳۱ ټپيان شوه. د کال په اخره برخه کښې ځانمرګي بريدوزياتوالي ومومه.[6]




ماخذ: د هيومن رايتس واچ له خوا تول شوی معلومات.

د حقوقي موقف له نظره ځانمرګی بريدونه نا روا نه دی، خو کوم ځانمرګی بريدونه چی په افغانستان کښی تر سره شوی په څرګنده توګه د جګړی د قوانينو نه په سرغړونی کښی شوی. ځانمرګی بريد کوونکی د غداری نه کار آخلي او د ملکی وګړو د موقف نه استفادي سره ځان خپل هدف ته نژدی کوی. دير ځل ځانمرګی بريدونه پر ملکی وګړو توغول کيږی او يا بريد کوونکی د ملکی وګړو ځان او مال ته زيان نه رسولو لپاره ضروری احتياط نه کوی.

---

4 نيو يارک ټايمز ،جنوری ۱۶، ۲۰۰۷ , امريکا وايی په افغانسان کښې د بريدونو شمير جګيږي. ‘ , ډيوډ کلاوډ

5 ”په افغانستان کښي نوي امريکاي قومندان په ۱۳۸۵ کال کښې د لا هم زياتو ځانمرګي بريدونه په ګمان دي“ د ۸۲ ومي فرقې قومندان ډاويډ ايم روډريګيزپه وينا کښي وويل. مونږ د ځانمرګي بريدونو او د جنګياليا نو په نظر کاميابه او ماهرانه تاکيکونو د زياتيدو اټکل کوؤ.

6

داسې ښکاري چې ډیر شمیر ځانمرګې بریدونه د طالبانو له خوا تر سره شوي وي. د دغو بریدونو له عمله ملکي وګړو ته رسیدلي ژور زیان په اړه طالبانو لږه اندیښنه ښودلې. د ۱۳۸۵ کال لیندۍ په میاشت کښې د طالبانو قومندان ملا داد الله د ځانمرګي بریدونه په ستاینه کښې یو فلم خپور کړی او پکښې ځانمرګي بریدونونه یې د بهرنیي پوځونو ته ځیان رسولو لپاره تر ټولو نورو وسیلو اثرناکه بللي [7] . د طالبانو ویاند ملا یوسف پژواک آژانس سره په خبرو کښې ویلي دي چې ځانمرګي بریدونه به په نوي کال کښې دوام و مومي او دا چې ځانمرګي بیدونه ددوی د ډلې د مشرانو د خوښې بریدونه دي[8] . ګلبدین حکمتیار هم په جنګیالي شخړو کښې د ځانمرګي بریدونو رول ستایلي دی [9] .

د تیر کال د مرګ ژوبلي شمیر څخه دا څرګنده کیږي چې د ځانمرګي بریدونو وژونکي اغیزې پر ملکي وګړو تر ټولو زیات دي. په سلو کښې ۸۰ فیصده ځانمرګي بریدونه، یعني ۱۱۲ بریدونه، په پوځي کاروانونو او تاسیساتو توغول شوي ول. او په سلو کښې ۱۳ فیصده، یعنی ۱۸ بریدونه، یې نیغ پر ملکي وګړو او ملکي تاسیساتو توغول شوي ول [10] . شپږ یې داسې بریدونه ول چې نښه یې څرګنده نه ده. نیغ پر ملکي وګړو او ملکي تاسیساتو توغول شوي ۱۸ بریدونو کښې لږترلږه ۲۰۰ ملکي وګړي مړه او ټپیان شوي ( 1۹ یې مړه او ۱۱۹ یې ټپیان شوي).

په اصل کښې دا منل شوي ده چې ځانمرګي بریدونه خپل نښې ته زیان رسولو کښې له نورو درستو وسلو څخه دقیقه ده. او دا چې ځانمرګي بریدونه، په ځمکې کښې ښخ ماینونه برعکس، په ذاتي دول بې توپیره نه دي. خو دا څرګنده شوي چې په څو داسې مواردو کښې ځانمرګي بریدکونکي د هیجاني او وارخطایي له کبله خپل بم یې یا د وخته مخکې او یا هم په غلط ځای کښې چوولي. تیر کال په افغانستان کښې ښایي دیرو برید کونکو خپل بمونه په غلط ځایونو، ، او په غلطه توګه توغولي وي چې له کبله یې ملکي وګړو ته لوی ځیانونه او مرګ ژوبله رسیدلې ده.

ځکه نو که چیرې هم دیر ځانمرګي بریدونو نښې پوځي کاروانونه او تاسیسات و، خو په اصل کښې قربانیان یې ملکي وګړي ول. د هغه ۱۱۲ بریدونه نه چې په پوځي کاروانونو او تاسیساتو توغول شوي ول، ۳۲ یې ملکي وګړو او مبارزو سرتیرو ته زیانونو نه پرته ترسره شوي دي [11]. او د کال ۱۳۸۵ پاتې

---

[7] د تصویري مصاحبه دپاره ښکتنی ویبسایت وګوری.
http://www.siteinstitute.org/bin/articles.cgi?ID=publications239006&Category=publications&Subcategory=0

[8] د افغانسان د ځانمرګي بریدونو دسیه، پژواک خبری اژانس ۱۳۸۵ کال


[9] د ګلبدین حکمتیار سره مرکه :زه د ځمکی په سر او اسمان ن ښکته ژوند کوم: چراغ ۱۳۸۵ کال کب میاشت

[10] په ۱۸۰ بریدونو کښی ۹۱ ځانمرګه، ۸۹ بمی بریدونه ، ۶۲ په ملکی وګړوباندی بریدونو کښی ۲۰ ځانمرګه او ۴۲ بمي بریدونه او ۵ هم خوسا بریدنه ول.

[11] دا شمیره د هغو پورتنی۱۸ قصدي بریدونو په شمول نه د

۸۰ بریدونو نه ۵۷ داسی بریدونه ول چی پکښې د پولیسو او پوځ په پرتله خورا دیر ملکی وګړی مړه او یا ټپیان شوی ول.

افغان او نړیوالو ځواکونو باندی ټوغول شوی ځانمرګی بریدونه




په پوځی نښو توغول شوی ۸۰ بریدونو کښې ۱۸۱ مکی وګړی او ۳۷ افغان، ایتلافی، امریکایی او یا د ناټو ځواکونو غړی ووژل شول. کال ۱۳۸۵ کښی پر پوځی نښو توغول شوی بریدونو کښی جنګیالیانو ، د پوځی ځواکونو غړو په پرتله، پنځه ځله زیات ملکی وګړی ووژل.

د ځانمرګی بریدونو اغیزه پر افغان ولس خورا ترخه ده. تیر کال پر ملکی او پوځی نښو باندی توغول شوی بریدونو کښی په سرجمع توګه ۸۰۳ افغان ملکی وګړی مړه او ټپیان شوی. ۲۷۲ یی مړه او ۵۳۱ یی ټپیان دي. ځانمرکی بریدونو کښی، د مبارزو سرتیرو په پرتله، اته برابره دیر ملکی وګړی قربانیان شوی.

## پر ښوونځیو بریدونه

د افغان اولس د مرګ ژوبلی د شمیر د زیاتیدو تر څنګ، په ۱۳۸۵ کال کښې پر ښوونځیو، ښوونکو او زده کوونکو باندي د جنګیالیانو بریدونو هم پاځوب وموند . هیومن رایټس واچ د ۱۳۸۵ کال د چنګاښ په راپور، *په ویره کښی درسونه* *Lessons in Terror* ، کښی پر جنکیانو، ښوونځیو او ښوونکو باندي دولت ضد ډلو د اوراچونی او داسی نور بریدونو په هکله معلومات را غونډ کړي. د دولت

مخالفو جنګیالیانو ښوونځیو باندي بریدونه یا د دنیاوي علم سره د مخالفت په بنا او یا هم د جنګیانو د مکتب ته تلو پر ضد کړي دی. او یا هم پردی اساس چي ښوونځیی او ښوونکی د دولت او بهرنیانو د چارو علامی دی.

د *ویره کښی درسونو* راپور ستونځي لا هم پاخوب مومي . په ۱۳۸۵ کال کښي د دولت مخالفو جنګیالیانو ۱۹۰ بریدونه پرزدوکوونکو، ښوونکو، ښوونځیواوښوونځیوچارواکو باندي توِغولي دي. په شمول د بمباری،اوراچونی او ډزو. چی د تیر کال د ۹۱ بریدونو پر پرتله دوه ځلي زیات دي[12].
ددغو زیات شوو بریدونو د کبله په جنوبی سیمو کښی د ښوونځیود زده کوونکو شمیر کمي موندلی ده.
په ۱۳۸۵ کال د زمري په میاشت کښې دَیونیسیف دخوا په خپور شوی راپور کښي داسي څرګنده شوي ده چي په ۴ مهمو جنوبی ولایتونو کښی، تر نیم زیات ښوونځی د بریدونو او اخطارونو له کبله تړل شوي دي. ددي عمله اټکل شوې ده چي ۱۰۰۰۰۰ پر شاوخوا زده کوونکی ښوونځی خوشي کولو ته مجبوره شوي دي[13]. په ۱۳۸۵ کال د زمري په میاشت کښی د وزارت معارف دخوا په نشر سوي بیانیه کښی د روان کال په لومړیو ۶ میاشتو کښی د وژل سوي زدوکوونکو، ښوونکواوښوونځیوچارواکو شمیر ۴۱ ته رسیږي[14].
تلی په میاشت کښی حامد کرزی خپل په یوه بیانیه کښی د رواني شخړی له کبله په اولس کښی د ښوونځیونه محرومه شوؤ زدوکوونکوشمیر ۲ لکه وښودي[15].

## له کورونو بی ځایه کیدل او د پر مختیایی هڅو نشتوالی

وسله واله شخړه د ملکي وګړو د بی ځایه کیدلو اود پر مختګ نشتوالی سبب هم ګرځیږي. د ملګرو ملتونو د کډوالو کمیسون او افغان دولت د منابعو له معلوماتو څخه اټکل شوی ده چي د ۱۳۸۵ کال چنګابښ نه تر وږی پوری ۱۵۰۰۰ تر ۲۰۰۰۰ افغان کورنۍ چي له ۹۰۰۰۰ تر ۱۲۰۰۰۰ پکښې ښځي او ماشومان دی، په جنوبی ولایاتو لکه هلمند ، ارزګان او قندهار کښی د خپلو کورو نه بی ځایه شوی دی [16]. تر دی نه مخکي0 ۱۱۵۰۰ نور افغانان په دغو سیمو کښی بی ځایه شوي وه چي د بی ځایه شوه شمیره په دغه دري ولایاتو کښی ومجموعه ۲۰۰۰۰۰ رسیږي.

---

12 د افغانستان د زده کړي پر ادارو بریدونه ددی راپور په انګریزی ګنه کښی ۱۳۸۴-۱۳۸۳
13 ملګرو ملتونو ماشومانو بودیجه.: یونیسیف ویره لری چی د زده کړي غوښتنه به ټیټه شي.:
14 د انترنشنال کرایسس ګروپ راپور.: http://www.crisisgroup.org/home/index.cfm?id=4485&l=1
15 پامیله کونستابل : کورني مکتبونه په پټه د ویری فعالیت کوي: واشنګټن پوسټ ۱۳۸۵
16 د ملګرو ملتونو پوره راپور http://www.unhcr.org/cgi-bin/texis/vtx/rsd/rsddocview.pdf?tbl=RSDCOI&id=459e656d2

بر سیره پر دی په سرحدي سیمولکه پکتیکا، پکتیا، خوست، ننګرهار او کنړ کښی د بی ځایه شوؤ فامیلونو شمیر معلوم نه دی. ددغه سیمو په ملیونونو خلګ اوس هم په پاکستان یا په ایران کښی د مهاجري ژوند تیروي [17] .

د ۱۳۸۵ کال ورستیو کښی د ملګرو ملتونو د مهاجرینو چارو کمیسون دا وموندلی چی دوی خپل امدادی کارونو ته په جنوب ختیځ کښی دوام نه شي ور کولاي.

د امنیت د تامینولو ستونځي به په جنوب او جنوب ختیځ کښی د اندیښنی وړ وي. په دغو سیمو کښې ددولت مخالفه ډلی فعاله دي او زیاتو بی توپیره زیان رسوونکو وسیلو نه لکه ناڅاپه حملی او ځانمرګي بریدونو نه کار اخلی. دغه شان بریدونه د دغو سیمو اداری اصلاحات او نورو چارو ته خنډ جوړوي. د ملګرو ملتونو د کډوالو کمیسون د بیرته راستون مهاجرینو سره نه شی کړاي چی خپل نیغه مرسته په ۱۳۸۶ کال کښې په څرګنده ډول بهتره کړي [18].

د ملګرو ملتونو د کډوالو د کمیسون د ۱۳۸۶ کال د پاره د نړیوالي مرسته غوشتنه د وضعي د جدي کیدو علامه ده[19].

د دی لیک پر مهال، د افغانستان په جنوب او جنوب ختیځ کښی وضع ډیره بی ثباته ده. په همدی خاطر د بیرته راستنیدونکو سره تماس د امکان نه وځي...د بی امنیتی موضوع اوس هم د تشویش وړ ده او هم د مرستیالانو رسیدو کښی تاخیر اچوي. [20]

د بی ځایه شوو افغانانو د مرستي د پاره د ملګرو ملتونو د کډوالو کمیسون ۵۲ ملیونه امریکاي ډالر وغوشتنه کړي ده خو په ۱۳۸۶ کال کښې یوازي د ۴۰۰۰۰۰ مهاجرینو د بیارته را ستنیدو په باور دي. د مهاجرینو د را ستنیدو د پاره په هیواد کښی ضمینه مسایده نه ده. په جنوب او جنوب ختیځ کښی دولتي مرستي او یا پرمختیایی او بشری امدادونه ډیر کم دي. نړیوال او دولتي مرستي او د پرمختګ پروژي په جنوب او جنوب ختیځ کښی ته تیرو دوؤ کلونو نه ټالیدلي دي.

---

17 http://www.unhcr.org/home/RSDCOI/4505323f2.pdf

18 یو این ایچ سی ار پلان وګوري، ۱ صفحه

19 یو این ایچ سی ار پلان وګوري صفحه ۲۰۵ تر ۲۰۸
http://www.unhcr.org/home/PUBL/455443a90.pdf

20 یو این ایچ سی ار د افغانستان ۱۳۸۶ کال اعملیاتی پلان: صفحه ۲ـ۵ او ۲۰۵ـ۲۰۶

# ت. سپارښتنې

په جګړه کښی پوځی عملیاتونو باندی د نړیوال بشردوستانه قوانیونو له خوا ، په وسله والی شخړې کښی ګد درستو ډلو باندی، څرګنده محدودیتونه وضع شوی دی. دولتی او د دولت مخالفی ډلی نشی کړای چې پر ملکی وګړو او ملکی تاسیساتو قصدی او نیغ بریدونه وکړی؛نشی کړای چی داسی بریدونه تر سره کړی چی په ترځ کښی یه د ملکی او نظامی وګړو توپیر ونه کړی او یا مخکی له مخکی ښکاره وی چی ملکی وګړوته رسیدونکي زیانونه به د پوځی لاسته راوړنو په تناسب دیر زیات وی؛ نشی کړای چی داسی بریدونه او پټکی وکړی چی خاص هدف یه د عامو وګړو په مینځ کښی ویره خپورول وی؛ او قانون دا هم منع کړی چی د پوځی ښبو باندی بریدونو په مهال له غدارۍ څخه کار واخلی، لکه د ملکی وګړو په جامو کښی پټ او پوځی بریدونه تر سره کړي. په درستو بریدونو کښي باید هر څه ممکنه وی وکړی تر څو عامو وګړوته د زیان رسولو امکان لږ کړي. د یرغلو له پاره جنګیالیان باید دی داسی ځایونه وتاکی چی ملکی سیمو ته نږدی نه وی، او هغه سیمو کښی چی د ملکی وګړو ګنه ګونه وی، عملیاتونو څخه لاس واخلي. افغان او نړیوال ځواکونه باید تر امکان حده هڅه وکړی چی خپلی اډی د ملکی سیمو نه لری و ټاکي.

هیومن رایټس واچ دا لاندیني سپارښتني لری:

## د طالبانو، حکمتیار حزب اسلامی ډله ،جیش المسلمین ، د جلال الدین حقانی ډله او د دولت ضد نورو وسله والو ډلو ته:

- ملکی وګړو او ملکی تاسیساتو باندی درست قصدی بریدونو ودروی. طالبانو قومندانان او مشران باید چی هلی ځلی وکړی چی ملکی وګړو ته زیان ونه رسوی او د بریدونو ښبی نشی. د نړیوال بشردوستانه قوانینو لاندی، ولسوالی ډلی یواځی پر پوځی هدفونو، مبارز سرتیرو، او هغه ملکی وګړی چی په دښمنی کښی لاس ولری، بریدونه کولای شی. د بریدونو نه مصَون وګړو دله ګښی د افغان دولت ملکی کارکوونکی او چارواکی، بشری او پرمختیایی مرستو کښی بوخت کسان، ښوونکي، خبریالان، داکتران، او داسی نور غیر مبارزه مامورین شامل دی. که د ملکی تاسیسات لکه ښوونځي، روغتونونه، او کورونو څخه پوځی اهدافو لپاره کار نه اخستل کیږی، نو پر دغو ښبو باندی برید منع دی.
- هغه بریدونو چی ملکی و ګړو او ملکی تاسیساتو ته بی توپیره او بی تناسبه زیان رسوی باید بند کړي. جنګیالیان چی کله پر فوځی ښبو بریدونه کوي، باید پوره هڅه وکړی چی ملکی وګړو ته پکښی زیان و نه رسیږی.داسی بریدونه مه کوی،او یا په بریدونو کښی هغه وسلې او ضریعي مه په کاروی چی د ملکی او پوځی ښبو توپیر و نشی کړای او یا ملکی وګړو او تاسیساتو ته یه

تاوان د پوځی نښنو په پرتله زیات وي. طالبان باید د ملکي وګړو د ګڼه ګوڼې ځایونو، لکه بازارونه، سرکونه او کوڅې، او د مجلس ځایونو کښې بریدونو څخه لاس واخلي. داسې بریدونه نا روا دي.

- هغه بریدونو او پېټکو څخه لاس واخلي چې هدف یې د ملکي وګړو مینځ کښې ویره خپرول وي. طالبان او نور جنګیالي ډلې باید هغه بریدونو او پېټکو څخه لاس واخلي چې د ملکي وګړو مینځ کښې ویره آچوي. داسې بریدونه د جګړې قوانینو نه سر غړونې کښې دي. دوی باید ملکي وګړو باندې ترخه پېټکې و نه کړي، او د شبنامو خپرول بند کړي.
- د بریدونو په مهال د ملکي موقف تظاهر مه کوی. د طالبانو او نورو جنګیالي ډلو غړي د پوځې لاسته راوړلو لپاره نه باید چې ځان ملکي وګړو په ګن کښې ظاهر شي. د جنګیالیانو ملکي موقف تظاهر عام وګړو څخه پوځې نښې جوړوي. پر پوځې نښنو باندې بریدونو کښې د دولت ضد جګیالیان کولای شی چې د جګړې چلونونه لکه دامونه، غلط خبرونه او ددروغو عملیاتونو څخه کار واخلي، خو نه باید چې د ملکي وګړو په جامو کښې پوځې عملیاتونه ترسره کړي.
- نړیوال بشردوستانه قوانینو ته ددرناوی وعده و کړي. د دولت ضد جګیالیان باید د جګړې د پاره نړیوال لاربښودنو څخه په عمومي دول ملاتړ اعلان کړي. او دا و منی چی دوي:
  --نشی کړای چی پر ملکي وګړو او ملکي تاسیساتو قصدي او نیغ بریدونه وکړي؛
  --نشي چې داسی بریدونه تر سره کړي چی په ترڅ کښې یې د ملکي او نظامي وګړو توپیر ونه کړي او یا مخکې له مخکی ښکاره وی چی ملکي وګړوته رسیدونکي زیانونه به د پوځی لاسته راوړنو په تناسب دیر زیات وی؛
  -- نشی کړای چی داسی بریدونه او پېټکی وکړی چی خاص هدف یې د عامو وګړو په مینځ کښې ویره خپورول وی؛
  -- قانون دا هم منع کړی چی د پوځی نښنو باندی بریدونو په مهال له غدارۍ څخه کار واخلی، لکه د ملکي وګړو په جامو کښې پټ او پوځی بریدونه تر سره کړي.

## د افغان دولت، ایتلاف، ناټو، او امریکایي ځواکونو په شمول نړیوال متحدو قواوته زمونږ سپارښتني:

- د ګزمو، کاروانونو او اډې جوړولو په اړه خپل سیاست او پلانونه بیا و څیړي تر څو ملکي وګړو ته تاوان رسولو امکان لږ کړي. لپاره ددی چی دولتی او نړیوال ځواکونه د جنګیالیانو له خوا په متداومه توګه د برید لاندی راځی، دوی دی باید دی چی خپل پوځونه د ملکي وګړو او تاسیساتو نه تر کوم حده چي ممکنه وی لری و ساتي. دا څرګندده ده چی د ملکي وګړو امنیت ساتلو لپاره پوځیان باید ددوی د ګڼه ګوڼی ځایونو شاو خوا کښې اوسی او ګزمی وکړي، خو په

دی بهیر کښې باید پوره احتیاط وکړی چې خپلې پوستې، تلاشیانې، او اډې د ملکی سیمو نه په لرې او لوړو سیمو کښې ځای په ځای کړي.

- د اصلی او شکمن ځانمرګی بریدکونکو په اړه خپل چلند او ښښتو قواعد و ازمويي. دولت او نړیوال پوځونه، لپاره ددی چې په غلطۍ کښې ملکی وګړو باندی دزی و نه کړی، او هم ملکی وګړو ته په وخت خبرتیاوی ور کړی، باید چې د ځانمرګی بریدکونکو پیژنده کی د چټکتیا او احتیاط نه کار واخلي. ځینی عملی پیشنهادونه:

-- د خپل تلاشیانې او کاروانونو باندی روښانه نښې او دری او پښتو لیکل شوی علامی نصب کړی.
-- مدام ، او هره تلاشي کښې ترجمانان حاضره لري.
--په تلاشیانو او پوستو کښې میشته سرتیرو ته عمده پښتو او دری حکمونه زده کړی، لکه (لری ځی او یا دلته ودریږي او داسی نور) تر څو له ملکی وګړو سره ارتباط وساتي.
--ملکی وګړو ته د تلاشیانو ، کاروانونو او پوستو په شا وخوا کښې د سم او له خطره پرته رویې په اړه معلومات ورکړي. هغه عامه خدماتو کمپاینونه چې پکښې ملکی وګړو ته ځان د خطر نه ژغورلو لارښونی کیږی باید ښه او پراخه کړي.

## د پاکستان دولت ته زمونږ سپارښتنې دا دي:

- هغه جنګیالیانو پسي واخلی چې د نړیوال بشردوستانه قوانینو نه جدی سرغړونو باندی تورن دي او اوس په پاکستان کښې میشته دي. له دوی څخه سمی پلټینی وکړي.
- هغه جنګیالیانو ته چې د نړیوال بشردوستانه قوانینو نه جدی سرغړونو لپاره مسئول دی، پناه مه ورکوي، او ورته خپل مرستي بندی کړي. پاکستانی دولت باید په ډاډه کړی چې پاکستانی چارواکی، ښایی د هری رتبې چې وي (فدرال، ولایتی او که محلی) ، هغه جنګیالیانو ته چې د نړیوال بشردوستانه قوانینو نه جدی سرغړونو لپاره مسئول دی پناه او مرستی ور نه کړي.

## په افغانستان، پاکستان او نورو ملکونو کښې د سیاسی، مذهبی ، او مدنی ټولنی (د جنګیالیانو د حامیانو په شمول) مشرانو ته:

- د هغه بریدونو په خلاف غږ جګ کړي چې پر ملکی وګړو او ملکی تاسیساتو قصدی او نیغ وی؛ چې په ترڅ کښې یې د ملکی او نظامی وګړو توپیر نه وی شوی او یا مخکی له مخکی ښکاره وي چې ملکی وګړو ته رسیدونکي زیانونه به د پوځی لاسته راوړنو په تناسب دیر زیات وی. هغی بریدونه او بټکی و غندوی چې خاص هدف یې د عامو وګړو په مینځ کښې ویره خپورول وی او

پکښې له غداري نه کار اخستل شوی وی. پرته له دی چی د جګړی په اړه مو څه افکار وی، د جنګیالیانو له خوا د جګړی د قوانینو نه سر غړوني وغندوي. د قتلونه، اعدامونه، پر ملکی وګړو هر دول بریدونه، د علماو وژنه، بر مرستندویو ادارو کارکونکو او د دولت ملکی مامورینو، او ملکی تاسیساتو لکه روغتونونه او ښوونځیو باندی بریدونه د جګړی د قانون سر غړونو څخه دي.

د راپور پاي

---------